څوک چې تاسو ته راشي په داسې حال کې چې تاسو ټول په يو سړي راغونډ شوي ياست، غواړي چې ستاسو منځ کې درز او تفرقه واچوي، او يا مو جماعت سره بيل کړي، نو ويې وژنئ

له عرفجة رضی الله عنه څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايل يې: «څوک چې تاسو ته راشي په داسې حال کې چې تاسو ټول په يو سړي راغونډ شوي ياست، غواړي چې ستاسو منځ کې درز او تفرقه واچوي، او يا مو جماعت سره بيل کړي، نو ويې وژنئ».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوي چې کله مسلمانان پر يو چارواکي سره راغونډ شول، او يا په يو جماعت سره راټول شول، بيا يو څوک راشي او د واک پر سر ورسره شخړه وکړي، نو پر دوی يې منع کول او ورسره جګړه کول واجب دي، تر څو يې شر دفع شي، او د وينو تويدلو مخنيوی وشي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/58223